# د کوروناواکسین په اړه معلوماتي پاڼه

**د کورونا ویروس**

د کورونا ویروس (SARS- COV-2) له انسان څخه بل انسان ته خپرېږي او د COVID 19ناروغۍ رامنځته کوي. یاده ناروغي ټول وګړي، چې په هرعمر وي، ناروغه کوي.
دکورونا ناروغي نښې نښانې تبه، ټوخی، سالنډی او د خوړو د خوند احساس له منځه تلل دي چې له څو ورځو تر څو اونیو دوام کوي.
د ناروغۍ بهیرهغه مهال سخت او جدي کېږي چې د ناروغ تنفسي لارې اود بدن نور اعضاء التهاب یا پاړسوب ولري، پدې وخت کې اړینه ده چې د ناروغ درملنه د روغتون په بېړني سرویس کې وشي.
کېدای شي د کورونا ناروغي اغېزې تر ډېرې مودې بدن کې پاتې شي او یا هم د ناروغ د مړینې لامل شي. د کورونا ناروغۍ په وړاندې تر ټولوغوره مخنیوی واکسین دی.

**ولی باید ځان واکسین کړئ؟**

واکسین تاسو د کوید ۱۹ ناروغۍ بهیر له سخت حالت او ناوړه پایلو ژغوري.

**څنګه واکسین په بدن کې تاثیر کوي ؟**

واکسین ستاسو بدن دې ته تحریکوي چې د ویروس پر ضد معافیتي توکي ( انتي باډي) جوړ کړي. کله چې ستاسو بدن ته د کوید ۱۹ ویروس (SARS-CoV-2-) ننوځي نوجوړه شوې انتي باډي لږ تر لږه د شپږو میاشتو لپاره ددې مخ نیوي کوي چې د ناروغي موسخته او پېچلې شي.
کله چې څوک واکسین شوی هم وي، اتثنایي حالت کې پر کوید ۱۹ ناروغۍ اخته کېږي خو د ناروغۍ بهیرکمزوری او د پېچلتیا او مړینې مخنیوی شوی وي.
په واکسین کې د COVID ۱۹ ناروغي ویروس نشته، له همدې امله دواکسین له لارې تاسو پر د کوید ۱۹ ناروغي نه اخته کېږئ .

**واکسین باوري او مطمئن دی؟**

هو، واکسین آزمویل شوی، اغېزمن او له خطر پرته ثابت شوی. په اروپا کې ټول واکسینونه چې کارول کېږي، په بشپړه توګه ازمویل شوي اولدې وروسته به هم په جدي توګه کنترول شي. له همدې امله د اروپا د درملو ادارې له خوا د واکسینونو جواز ورکول کېږي.

**څوک واکسین کیدی شي؟**

واکسینونه د هغوی ډول ته په کتو له ۱۲ یا ۱۸ کلنۍ ورکول کېږي. په زړې ناروغي ( لکه د وینې لوړ فشار، د شکرې او زړه ناروغي او سا لنډي ) اخته وګړي هم کولی شي ځان واکسین شي . هغوی کولای شي لومړی له خپل معالج ډاکټر سره پدې اړه خبرې وکړي اود هغه له مشورې سره سم پرېکړه وکړي.
همدارنګه هغه څوک چې الرژي یا حساسیت ولري ( لکه د خوړو سره، دګلانو د ګرد ، د کورګرد اود انتي بیوتیک په وړاندې حساسیت) هم کیدای شي واکسین شي، ځکه په واکسین کې داسې څه نشته چې حساسیت رامنځته کړي . کله چې له خپل ډاکتر سره د ځان وا اکسین کولو په اړه مشوره کوئ د حساسیت موضوع هم ورته یاده کړئ او خپل د حساسیت ځانګړی کارت هم له. ځانه سره ولرئ.

**څوک باید واکسین نشي ؟**

کله چې تاسو یوه حاده میکروبي ناروغي له ۳۸ درجې لوړې تبې سره ولرئ ، باید مخ کې له واکسین کېدو د خپل معالج ډاکټر سره وغږېږئ. همدارنګه که امید واره یاست ، یا فکر کوئ چې حمل لرئ او یا د ماشوم لرولو پلان ولرئ د واکسین د مخه له خپل ډاکتر سره پدې اړه خبرې وکړئ. اوکه چېرې تاسو اوس مهال پر کوید ۱۹ ناروغي اخته یاست، د لومړي مثبتې PCR نیجې وروسته تر ۴ اونۍ پورې اجازه نلرئ چې واکسین شئ.

**هغه وګړي چې دکوید۱۹ناروغي یې تېره کړې باید واکسین شي؟**

که د کوید ۱۹ ناروغي مو تېره کړې وي، کیدی شي بیا هم ناروغه شي. لدې امله باید نوموړي وګړي هم واکسین شي. خو واکسینېشن باید ۴ اونۍ له ناروغۍ وروسته تر سره شي.

**چېرته او څنګه کولای شم ځان واکسین کړم؟**

واکسینېشن په بیلابیلو ځایونو کې ترسره کېږي. تاسوکولی شئ وخت ورته ونیسئ یا پرته له وخت نیولو سیده د واکسنیشن ځای ته لاړ شئ د واکسینېشن ځای او مهال په اړه په : impfservice.wien پاڼه کې کولئ شئ مالومات تر لا سه کړئ.

**د واکسینېشن ټول بهیر څنګه ترسره کېږي؟**

واکسین لګول د هر چا د خوښې کار دی. اوپه وړیا توګه ترسره کېږي. . مخکې تردې چې د واکسینېشن ځای ته ورننوځئ، تاسو ته یوه فورمه ( د لاربښووني فورمه) درکول کېږي، چې باید ډ که یې کړئ او که چېرې کومه پوښتنه لرئ، له ډاکټر سره پرې وغږېږئ.
لطفا د واکسین کولو لپاره خپل د صحي بیمې کارت او د واکسین کتابچه ( که لرئ یې ) له ځانه سره راوړئ. له ۱۴ کلنۍ ټیټ ماشومان باید له خپل سرپرست سره راشي او یا له خپل سرپرست شخص څخه لیکلې اجازه ولري.
دواکسین عمل دستاسو د لاس پر مټ(بازو) دیو ې پیچکارۍ پر لګولو ترسره کېږي. پدغه ستنه یا پیچکارۍ کې د واکسین مواد وي. وروسته لدې چې واکسین شوئ ، تقریبا ۲۰ دقیقې هلته پاته شئ. که چېرې ځان ښه نه احساسوئ، د هغه ځای ډاکټریا طبي پرسونل ته خبر ورکړئ.

ډول ډول  واکسینونه شته، د ځینو مکمل دوز په یو وار ورکول کیږي اوځینې په دوه برخو کې دوه ځلې ورکول کیږي. دوهمه برخه یې له لومړۍ برخې څواونۍ وروسته لګول کیږي.

**کولی شم د واکسین ډول پخپله ځانته غوره کړم؟**

هو، کولی شئ د واکسین ډول په خپله غوره کړئ ، البته دا پدې پورې اړه لري چې ستاسوعمر څومره دی اود خپلې خوښې و اکسین موشته که نشته.

**آیا د کوید ۱۹ واکسین ناوړه تاثیرات (جانبي عوارض)  لري؟**

واکسین کولی شي ناوړه اغیزې ولي چې سطي دي اوښه درملنه یې کیږي. دبېلګې په توګه د ستنې ځای خوږیږي،  سوروالی او پړسوب لیدل کیږي. له واکسین کولو وروسته ډېر ځلې سړ ی ځان ستومانه احساسوي، سر یې خوږیږي او یا لړ تبه لري. همدارنګه د زړه بدوالی، استفراغ اود سړه تبې پیښې هم لیدل کیږي.
پورته جانبي تاثیرات د واکسین په وړاندې یو ډول نورمال عکس العمل دي. لامل یې دادی چې بدن د مرض د مکروب په وړاندې دفاع لپاره تیاری نیسي. نوموړي جانبي تاثیرات اکثراً وروسته له څو ورځو لرې کیږي. له لسوتنو واکسین شویو څخه څه د پاسه یو تن ته یادې ستونزې را منځته کیږي.

**سر بېره پر دې چې واکسین شوی یم باید FFP2 ماسک استعمال کړم؟**

سره لدې چې تاسو واکسین کړی، خو محافظتي مقرارت لکه د  FFP2 ماسک استعمال، دحفظ الصحې مقررات او د واټن یا فاصلې ساتل باید مراعات کړئ .

**<u>نور مالومات په لاندی لینکونو کې موندلئ شئ :</u>**

https://www.sozialministerium.at/Corona-Schutzimpfung/Corona-Schutzimpfung---Haeufig-gestellte-Fragen.html
https://www.sozialministerium.at/Informationen-zum-Coronavirus/Coronavirus---Aktuelle-Informationen-in-Fremdsprachen-.html
https://www.sozialministerium.at/Corona-Schutzimpfung/Corona-Schutzimpfung---Jetzt-anmelden-/Faktencheck-zur-Corona-Schutzimpfung.html